(c) ketabton.com: The Digital Library

وریځي د باد په واسطه پورې وهل کیږي: د (کومولونیمبوس ) وریځ هغه وخت جوړیږي چې کوچنۍ-۱
وریځي(کمولس) د باد په واسطه یومرکزي ټکي ته پورې وهل شي.

یوزایوالی: کوچنۍ وریځي سره یو ځای کیږي او غټي وریځي جوړوي -۲.

خره کیدل: کله چې کوچنۍ وریځي سره یو ځای شوې او غټي وریځي یې جوړې کړې نو دا وریځي کرار کرار-۳
پلنیږي چې دا پلنوالی په مرکزکي نسبت اړخو ته ډیر وي نو کله چې دا عمودي غټوالی ډیرشي نو وریځي
داتموسفیر یخو برخو ته پورته کیږي او هلته د اوبو او ږلی وړې دانې جوړوي او کرار کرار دا دانې غټیږي چې دا
دانې درنې شوې نو د وریځي لاندې خواته راځي اوبیا د باران او ږلۍ سبب ګرځي.

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي:
آیا نه وینې ته چې ښشکه الله رٌوانوي»۴۳:۲۴

شړي وریځي بیا یو ځای والی فرمایي په منځ د دغو وریځو بیایې وګرځوي لاندې باندې قت قت نو وینې به ته ای
« ... ( انسانه) باران چې وځي له منځه د دې وریځي

میتیورولوجستانو اوس په دې وروستیو کلنو کې په ډیرو پرمختللي وسایلو لکه :الوتکو،کمپوترونو، سټیلاتونو
او بالونونو په وسیله د اوریځو د جوړولو په بڼه او ساختمان پوه شوي دي.

دا ذکر شوی مبارک ایت د وریځي د جوړیدو وروسته د تالندې او ږلۍ په هکله داسي وایي:

نازلوی الله له آسمانه غرونه دا وریځو چې وي په هغه غرونو کې ږلي پس رسوی الله دا ږلی هغه چا ...»۴۳:۲۴
ته چې اراده و فرمایي او ګرځوي له هر هغه چا څخه چې اراده یې وفرمایي داتیزه روشنایي نژدی ده د هغو
«سترګې ړندی کړي

میتورولوجستانو) دا موندلې ده چې د (کومولونیمبوس) وریځي هغه چې ږلی اوروي ۲۵۰۰۰ تر ۳۰۰۰۰ فیټه یا)
(۴.۷-۵.۷) مایله لکه غرونه پلنوالی لري.

دمیتورولوجي په اساس هغه وریځي چې ږلي اوروي هغه برقي کیږي :کله چې د باران څاڅکي د ږلی د دانو
سره ومښلي یا ټکروکړي نو هغه څاڅکي کنګل کیږي اوخپله پټه انرژي ازاده وي دا انرژي بیا د ږلي مخ تودوي او
د یخي کرسټل یې مخ پوښي اوالکترونونه د ساړه شیانو نه تودو شیانو ته حرکت کوی نو ږلی منفی چارچ اخلي
همداسې کله چې د ږلی دانې د ډیرو یخو

څاڅکوسره تماس وکړی د د ی یخو کوچنۍ څاڅکو د دړو مثبت چارچ ماتیږي؛ دا مثبت چارچ بیا د وریځي
پورته خوا ته ځي او ږلی منفي چارچ نیسي او وریځي لاندې خوا ته ځي او هغې ته منفي چارچ ورکوي او دا
منفي چارچ بیا د تندر سبب ګرځي نو ږلی د تندر د پیداکېدو مهم فکتور دی لکه چې قران پاک وایي.

په( ۱۶۰۰) کې د (ارستوتل ) نظریه دا وه چې اتموسفیر دوه ډوله هوا تولید وي یوه سړه او بله توده .هغه ویل:
د تندر ږغ د وچې هوا او وریځو د مښتلو څخه پیدا کیږي او بریښنا بیا د وچې هوا په بې شمیې اورسره د
سوځیدولو نه پیدا کیږي. دا هغه نظریه وه چې د اسلام په وخت کې هم خلکو باور پرې درلود.

## د ځمکې ګردوالی:

په لومړي وختونو کې خلکو دا عقیده درلوده چې ځمکه اواره ده او ویریدل چې د هغه نه ونه لویږي.

فرانسیز درایک )لومړی سړی وو چې هغه په کال(۱۵۹۷ )که د بحري سفر وروسته وویل چې ځمکه ګردۍ ده).

خدای (ج) په قران شریف کې فرمایي

آیا نه وینئ چې ښشکه الله ننباسي[یولج] شپه په ورځ کښې او ننباسي ورځ په شپه کې او مسخر کړی»۳۱:۲۹
«دي تاسو ته لمر او سپوږمۍ هر یو روان دی تر ټاکلي مودې پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

. يولج (ننباسي) مانا لري ،كرار او په تدريج سره ننيستل

نو كه ځمكه اواره واى نو شپه په ورځ او ورځ په شپه  به يو وار دفعتاً اوښتله نو دامبارک ايات دا  مانا لري چې ځمكه گردئ ده.

خداى (ج) په قران شريف كې فرمايي

نه دى لمر لايق دغه لره چې لاندى كړي سپوږمئ ونه شپه ړومبئ كيدونكي ده له ورځې او دغه ټول(«٤٠:٣٦ «فلكي اجرام) په اسمان كې چورليدونكى [يسبحون] دى

د يسبحون چې له (سباحه )نه اخيستل شوى  ده لغوي مانا يې(حركت، څلورو خواووته گام (قدم )واهل  او (وضعي حركت دى

ابن تايميحا ه چې (١٣٢٨ )كې يې وفات كړى دى يو مشهورمفسير ووهغه  په مجموع الفتوا ه( taymiyah) شپږم ټوک( ٥٦٦-٥٦٧) پاڼه كې ليكي : فلک چې جمع يې( الفلوه )ريښه يې  فلكان  ده گردي شي ته وايي

هغه وايي: آسماني اجرام ټول گردي دي  نو لمر او سپوږمئ هم فلک  يعنى گردي دي

ابن عباس وايى فلک څرخيدونكي ارغړئ ته وايي

خليفه رشيد وايي «دحها »د شتر مرغ هگئ ته وايي

:خداى (ج) په قران شريف كې فرمايي

«او ځمكه وروسته له دغه صافه [دحها]وغوروله ..» ٧٩:٣٠

د (دحها) مانا  په هكله ( ا. يوسف على) وايي دحها يوه معنى وسيع او پراخه او بله معنى يې د شتر مرِغ هگئ ده  نوځكه ځمكه د شتر مرغ د هگئ سره ورته بڼه لري.

:د ځمكې د گرديوالي يو ثبوت د دوو ختيزو او دوو لويديزو ذكر دى

:اللّه (ج) په قران كريم كې فرمايي

« رب د دواړو مشرقينو او دواړو مغربينو دى»٥٥:١٧

دا دا مانا لري چې لمر په نيمه كره د ځمكې كې را پورته كيږى او بلې خوا ته غروب كوي دا يې يو ختيځ او يو لويديځ او په بله نيمه كره كې بيا لمر دبل ځايه را خيژى او بل چيرئ لويږى دا يې دوېم ختيځ او لويديځ كه ځمكه اواره واى نو يو ختيځ او يو لوديځ به  ويل شوى وايي همدا علت دى چې په نيمه كره كې ورځ او عين وخت كې په بله نيمه كره كې شپه ده او د دواړو مغرب او مشرق سره توپير لرى.

همدا علت دى چې دلته د دوو ختيزو يا دوو لويديزو فاصله نسبت له لويديزه تر ختيزه واټن نه زياته ښوول شوى ده ځكه ديوى نيم كرى د لمر ختلو ځاى د بلې نيم كرى دلمر لوېدولو ځاى دى

«...كاشكى چې وي په منځ زما اوستا كښې ليرى والى لكه د مشرقينو...»٤٣:٣٨

